قبر کا امتحان (پشتو)

# دقَبُرِ امتِحان



شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

## مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

پښتو ترجمه:
مجلِسِ تراجِم
(دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰھُمَّ افْتَحْ عَلَیْنَا حِکْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَیْنَا رَحْمَتَكَ یَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَام**

**ترجمه:** اے الله جَلَّ جَلَالُہٗ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفكر بيروت)

(اول او آخر کښ يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالب غم
مدینه بقیع
ومغفرت



د رسالې نوم: **د قَبر اِمتِحان**

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښ څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښ مخکښ وروسته لګيدلې وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه ته رجوع اوکړئ.

www.dawateislami.net

# د قبر اِمتحان

د شیخ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د بیان دا رِساله "قبر کا امتحان" په اردو ژبه کښې لیکلي شوي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمې، زیاتې اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

# فهرست


**دقَبُرامتِحان ........................................ 1**

د درود شریف فضیلت ........................................ 1

د قبر رَتل ........................................ 2

مُبَلِّغِینو ته دِ مبارك شي ........................................ 3

زما بال بچي چرته دي! ........................................ 3

په قَبر كښ يَرِوونكي خيزونه ........................................ 4

آيا د الله تعالٰى نه يريدلو والا ګناه كولې شي؟ ........................................ 5

د ګاونډيانومړو وَينا ........................................ 6

امتحان راتلو والا دي ........................................ 7

صرف نقل كوونكي كامياب ........................................ 9

بد نصيبه ناوَك اُوده پاتي شو! ........................................ 10

د قَبر خطرناك منظر ........................................ 13

د جانان ﷺ ديدار ........................................ 16

د جهَنَّم په دروازه نوم ........................................ 20

تور لړمان ........................................ 22

زُلفي پرېښودل سُنّت دي ........................................ 23

د عِمامې ښكلې حِكايت ........................................ 24

د ناجائِزه فيشن كوونكو انجام ........................................ 25

راځئ چه پخه وعده اوكړو ........................................ 26

د ميلمستيا ۲۰ مَدَني ګلونه ........................................ 27

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# دقَبْر اِمتِحان[1]

شيطان که هر څومره ناراستي درواچوي خو تاسو دا بيان پوره اولولئ
اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى تاسو به په خپل زړه کښې مَدَني انقلاب محسوس کړئ.

## د درود شريف فضيلت

سرکارِ نامدار د مديني تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "تاسو خپل مجلسونه په ما باندې په دُرُود شريف وئيلو ښکلي کړئ ځکه چه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي." (اَلْجَامِعُ الصَّغِير ص۲۸۰، حديث۴۵۸۰)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

یاد رکھ ہر آن آخر موت ہے
بن تُو مت انجان آخر موت ہے

مرتے جاتے ہیں ہزاروں آدمی
عاقل و ناداں آخر موت ہے

کیا خوشی ہو دل کو چندے زیست سے
غمزدہ ہے جاں آخر موت ہے

ملکِ فانی میں فنا ہر شَے کو ہے
سن لگا کر کان آخر موت ہے

بارہا عؔلی تجھے سمجھا چکے
مان یا مت مان آخر موت ہے

---

[1] دا بيان امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د تبليغ قرآن و سنت د عالمگير غير سياسى تحريک دعوت اسلامى د ۱۴۱۶ھ د درېي ورځو په بين الاقوامى سنّتو نه ډکه اجتماع کښې په مدينةُ الاولياء ملتان کښې فرمائيلي وو. (مجلس مکتبة المدينه)

هر وخت ياد ساته چه آخِر مرګ دي — مه جوړيږه بي پروا آخِر مرګ دي
مري ورځ او شپه په زرګاؤ انسانان — عقلمند اَوهُم ساده آخِر مرګ دي
څه به شم خوشحاله په دي لږ شان ژوند — زړه مي دي خفه چه آخِر مرګ دي
هر شي به فنا شي د فاني دُنيا — ډير په غور واوره آخِر مرګ دي
څو ځله مي پوهه کړي ته اے عِلمیّ — که مني او که نه آخِر مرګ دي

## د قبر رَټل

د **حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو الْحَجّاج** ثُمالي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دي چه د مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دي: چه کله مري قَبْر ته کُوز کړي شي نو **قَبْر** هغه ته خِطاب کوي [يعني وائي] چه: اے اِنسانه! ته تباه شي! تا زه د څه د پاره [يعني ولې] **هير** کړي ووم؟ آيا تا ته دومره هُم نه وه معلومه چه زه د فِتنو کور يم، د تِياري کور يم، بيا ته په څه خبره په ما باندي غَره ګرځيدلي؟ که هغه مړي د نيك بنده وي نو يو **غيبي** آواز **قَبْر** ته وائي: اے **قَبْره!** که دا د هغوئي نه وي چا به چه د **نيکئ** حُکم کولو او د بدئ نه به ئي منع کوله نو بيا! (يعني بيا به ستا سُلوك څه وي) **قَبْر** وائي: که دا خبره وي نو زه د ده د پاره **ګلزار** جوړيږم. چنانچه بيا د هغه کس بدن په **نُور** کښي بدل شي او د هغه رُوح د **رَبُّ الْعٰلَمِين** جَلَّ جَلَالُہٗ د بارګاه طرف ته **والوَځي**.

(اَلْمُسنَدُ اَبِی یَعْلٰی ج٦ ص٦٧ حديث٦٨٣٥)

www.dawateislami.net

# مُبَلّغِینو ته دِ مبارك شي

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! په دي حديثِ پاك باندې سوچ او فِكر خو اوكړئ چه كله هُم څوك قَبْر ته كوز كړې شي كه هغه نيك وي او كه بد هغه په قَبْر كښې يَرولې كيږي. د دعوتِ اسلامي مُبَلّغِینو! د فیضانِ سُنَّت درس وركوونكو! په علاقائي دوره د پاره د نيكئ دعوت كښې شركت كوونكو! د خپل اولاد د سُنَّت مطابق تربِيَّت كوونكو او د سُنَّتونو د ښودلو د پاره اِنفرادي كوشش كولو والؤ ته دِ مبارك شي ځكه چه په قَبْر كښې به يو غيبي آواز د نيكئ د حُكم كولو والؤ او بدئ نه د منع كولو والؤ تائيد او ملكرتيا كوي او دغسې به قَبْر د هغوئي د پاره گُلزار جوړ شي.

تمھیں اے مُبلّغ یہ میری دعا ہے
کئے جاؤ طے تم ترقّی کا زینہ

تا ته اے مُبَلّغه دا زما دُعا ده
زه په بَره خيژه د ترقئ په منزِلونو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# زما بال بچي چرته دي!

ياد ساتئ قَبْر ته به د انسان سره صرف عمل ځي، اوچتې اوچتې بنګلې، عاليشان محلونه، اوچت اوچت كورونه، مال او دولت، په بينك كښې جمع رقم، غټ غټ كاروبارونه، غټ غټ پلاټونه، شنې

www.dawateislami.net

شني چيچې وهونکي پتې او ښائسته باغونه، دا ټول خيزونه به د انسان سره قَبْر ته نه ځي. چنانچه **حضرتِ** سَيِّدُنا عطا بِن يَسار رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: کله چه مړې قَبْر کښې کيښودلې شي نو د ټولو نه مخکښې د هغه **عمل** [راشي او] د هغه ګڅ طرف ته وررون اوخوزوي او وائي: زه ستا **عمل** يم. هغه مړې تپوس کوي: زما بال بچې چرته دي! زما نِعمتونه، زما دولتونه چرته دي؟ نو **عمل** وائي: هغه ټول ستا نه وروستو پاتې شو او زما نه سِوا ستا سره قَبْر ته هيڅ څوك نه دي راغلي.

(شَرْحُ الصُّدُور ص١١١)

## په قَبر کښې يَروونکي خيزونه

د شپې په تَياره کښې يَريدونکو! د پيشو په مياؤں باندې د ټوپ وهلو والؤ! د سپي په غپلو لاره بدلولو والؤ! د مار او لړم صرف نوم اوريدلو باندې ريپدو والؤ! بل اور د لرې نه ليدلو باندې د لړزيدلو والؤ! بلکه صرف د لُوګي په وجه د بې سکونه کيدلو والؤ د پاره د فِکر مقام دې. **حضرتِ** سَيِّدُنا عَلّامه جلالُ الدِّين سيوطي شافِعي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په **شَرْحُ الصُّدُور** کښې نقل کوي: ”چه کله انسان قَبْر ته داخل شي نو هغه ټول خيزونه د هغه د يَرولو د پاره راشي د کومو [خيزونو] نه چه هغه په دُنيا کښې يَريدلو او د **الله** تعالیٰ نه نه يَريدلو.“

(شَرْحُ الصُّدُور ص١١٢)

## آيا د اللّٰه تعالیٰ نه يريدلو والا ګناه کولې شي؟

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! آيا د **اللّٰه** تعالیٰ نه يَريدلو والا په نمانځه، روژه او زکوٰة ادا کولو کښې کوتاهي کولې شي؟ آيا د **اللّٰه** تعالیٰ يَره لرونکې کس په دوکه سودا خرخولې شي، آيا حرامه روزي ګټلې شي، آيا د سُود او رِشوت اخستل ورکول کولې شي؟ ګِيره خرئيل ا و د يو مُوټې نه کمَوَل دواړه حرام دي نو آيا د اللّٰه تعالیٰ يَره لرلو والا ګِيره خرئيلې يا وړه وړه پريښودلې شي؟ آيا د **اللّٰه** تعالیٰ نه يَريدلو والا په ټي وي، وي سي آر [سينما] او انټرنيټ باندې فِلمونه او ډرامې کتلې شي؟ سندرې او سازونه اوريدلې شي؟ آيا د **اللّٰه** تعالیٰ نه يَريدلو والا د مور و پلار، خويندو، وروڼو بلکه د عامو مسلمانانو زړونه ازارولې شي؟ آيا د **اللّٰه** تعالیٰ نه يَريدلو والا کنزلې، دروغ، غِيبت، چغلي، وعده خِلافي، بد نظري، بې حيائي، بې پردګي وغيره وغيره ګناهونه کولې شي؟ آيا د **اللّٰه** تعالیٰ نه يَريدلو والا د غلا، ډاکې، دهشت ګردئ او د قتل په شان سخت ګناهونه کولې شي؟ په قِسم قِسم ګناهونو کښې اخته اوسيدو والا دِ يو ځل بيا په غور واوري "چه کله انسان قَبْر ته داخل شي نو هغه ټول څيزونه د هغه د يَرولو د پاره راشي د کومو [څيزونو] نه چه هغه په دُنيا کښې يَريدلو او د **اللّٰه** تعالیٰ نه نه يَريدلو."

(ايضاً)

www.dawateislami.net

## د ګاونډیانومړو وَینا

د بې لــمانځو، د شرعي عُذر نه بغیر د رَمَضَان د میاشتې روژې قضا کولو والؤ، فِلمونه ډرامې کتلو والؤ، سندرې او سازونه اوریدلو والؤ، د مور او پلار زړونه ازارولو والؤ، کِیره خرئیلو والؤ یا د یو مُوتې نه وړه کولو والؤ او په قِسم قِسم نافرمانو کښې اخته خلقو د پاره د فِکر مقام دې چه حُجَّةُ الْإِسلام اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نقل کوي: ”چه کله (ګنهګار) مړې په قَبْر کښې کیږدې او په هغه باندې د عذاب سلسله شروع شي نو د هغه ګاونډیان مړې وائي: ”اے د خپلو ګاونډیانو او وروڼړو نه پس په دُنیا کښې اوسیدو والا! آیا ستا د پاره زمونږه په معامله کښې څه عِبرت نه وو؟ آیا زمونږه ستا نه مخکښې (د دُنیا نه) په تللو کښې ستا د پاره څه د غور او فِکر مقام نه وو؟ آیا تا زمونږه د اعمالو د سلسلې ختمیدل نه وو لیدلي؟ تا ته خو مُهلت وو تا هغه نیکئ ولې اونکړې کومې چه ستا وروڼړو اُونکړې شوې.“ د زمکې یو طرف هغه ته آواز کوي او وائي: ”اے د ظاهري دُنیا نه دوکه خوړلو والا! تا د هغوئي نه ولې عِبرت وانخستو څوک چه ستا نه مخکښې دلته راغلي وو او هغوئي دُنیا په دوکه کښې اچولي وو.“ (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج ٥ ص ٢٥٣)

ګرانو او خوږو اسلامي ورونړو! حقيقت دا دي چه لکه هر يو مړ کيدو والا کس چه دا پيغام ورکوي او ځي چه ثنګه زه مړ شوې يم دغسې به تاسو هُم مړه کيږئ، ثنګه چه زه د منونو خاورو نه لاندې ځخيدو والا يم هُم دغسې به تاسو هُم خخ کړې شئ.

جنازہ آگے بڑھ کے کہہ رہا ہے اے جہاں والو!
مرے پیچھے چلے آؤ تمہارا رہنما میں ہوں

جنازه مخکښې ده روانه وائي اے دُنيا والؤ
وروستو په ما پسې راځئ زه لار ښودونکې ستاسو يم

## امتحان راتلو والا دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! نن صبا چه کله د سکول يا کالج امتحان نزدې راروان وي نو طَلَبه د دې په تيارئ کښې ډير زيات مشغول شي، شپه او ورځ هغوئي په دې يو فِکر کښې اخته وي چه **امتحان راغې**، د امتحان د پاره خوارې هُم کوي، دُعاګانې هُم کوي. او ځينې نادانه خلق خو مُـمتَحِن [يعني امتحان اخستونکې] ته رشوتونه هُم ورکوي، بس د هر يو هُم دا خواهش وي چه په څه طريقه د دُنيا په امتحان کښې په ښو نمبرو پاس شم. اے د دُنيا د امتحان په تيارئ کښې د ځان نه ورکو خلقو! په ډير غور سره واورئ چه يو امتحان هغه هُم دې کوم چه په قَبْر کښې کيدو والا دې. اے کاش چه! مونږ ته د قَبْر د امتحان تياري رانصيب شي. نن صبا که اِمکاني

سوالات په لاس ورشي نو طالبِ عِلم په هغې باندې ډېر شپه ورځ محنت کوي، که د خوب تښتولو د ګولو د استعمالولو ضرورت راشي نو هغه هُم استعمالوي. اے د دُنيا د امتحان فِکر لرونکو! عجيبه خبره ده چه تاسو په اِمکاني سوالونو باندې ډير زيات محنت کوئ؟ کاش چه! تاسو ته احساس اوشي چه د قَبْر سوالونه اِمکاني نه بلکه يقيني دي کوم چه مونږ ته د **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ خوږ رسولِ مقبُول صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخکښ نه ښودلي دي او د هغې جوابات ئې هُم ارشاد فرمائيلي دي. هائے افسوس! د قَبْر د سوالونو د جوابونو طرف ته زمونږه هيڅ توَجُّه نشته. آه! نن مونږ د دُنيا په رنګينئ کښې داسې ورك شوي يو چه مونږه هډو د دې خبرې احساس نه لرو چه مونږه به مړه کيږو هُم. ؎

دِلا غافل نہ ہو یک دم یہ دنیا چھوڑ جانا ہے
بَغیچے چھوڑ کر خالی زمیں اندر سمانا ہے

ترا نازک بدن بھائی جو لیٹے سَیج پھولوں پر
یہ ہوگا ایک دن بے جاں اسے کیڑوں نے کھانا ہے

تُو اپنی موت کو مت بھول کر سامان چلنے کا
زمیں کی خاک پر سونا ہے اینٹوں کا سرہانا ہے

نہ بَیلی ہو سکے بھائی نہ بیٹا باپ تے مائی
تو کیوں پھرتا ہے سَودائی عمل نے کام آنا ہے

عزیزا یاد کر جس دن کہ عِزرائیل آویں گے
نہ جاوے کوئی تیرے سنگ اکیلا تُو نے جانا ہے

جہاں کے شَغل میں شاغِل خدا کی یاد سے غافل
کرے دعوی کہ یہ دنیا مرا دائم ٹھکانہ ہے

غلام اِک دم نہ کر غفلت حَیاتی پر نہ ہو غُرّہ
خدا کی یاد کر ہر دم کہ جس نے کام آنا ہے

د شعروونو ترجَمه:

(۱) اے انسانه! مه غافله کيږه دا دُنيا او د دې باغونه به درنه پاتې شي او په زمکه کښې به خخ کړې شې.

(۲) اے وروره! ستا دا نازك بدن چه نن په ګلونو خوبونه کوې، يوه ورځ به د دې نه ساه اُوځي او د چينجو خوراك به شي.

(۳) ته خپل مرګ مه هيروه او د تللو تيارې کوه، د زمکې په خاورو به اوده ئې او سر به دِ د خاورو په بالښت وي.

(٤) مور او پلار او ورونړه به دِ هيڅ مدد اُو نکړې شي، ته ولې سودائي ګرځې عمل به دِ په کار راځي.

(٥) څه شو د نمرود زور او څه شو د فِرعون تخت، که څوك پوهه دې او که ناپوهه، د ټولو نه دا دُنيا پاتې ده.

(٦) اے وروره! چه په کومه ورځ عِزرائيل (عَلَيۡهِ‌السَّلَام) تشريف راوړي، نو ستا سره به بل هيڅ څوك نه ځي ته به يواځې ځې.

(۷) د دُنيا په کارونو کښې مشغوله او د الله جَلَّ جَلَالُهٗ د ذِکر نه غافله، ته دا دعوىٰ لرې چه زه به هميشه په دې دُنيا کښې اوسيږم.

(۸) اے غلامه! لږ هم مه غافِله کيږه او په ژوند باندې مه نازيږه، هر وخت الله يادوه هم دا به دِ په کار راځي.

## صرف نقل کوونکي کامياب

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! الله تعالىٰ دِ په تاسو ټولو خپل فضل و کرم اوکړي، الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی دِ تاسو ټولو ته په مدينهٔ مُنَوَّره کښې د شِين

www.dawateislami.net

کُنبد نه لاندې د اِيمان او عافِيَت سره شهادت نصيب کړي او دا تولې دُعاګانې دِ د مدينې د خاورو په خاطر زما يعني سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ په حق کښې هُم قبولې کړي. الله تعالیٰ صرف په خپل فضل و کرم مونږ ته داسې پاکِيزه نمونه راعطا کړې ده چه کوم مسلمان د هٰغه نمونې ښومره ښه نقل کوي هغه هُمره به هغه په اعلٰی طريقه کاميابېږي. چنانچه الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د هغه مُقَدَّسې نمونې اعلان د يو وِيشتمې سيپارې د سُورةُالاَحزاب په يو وِيشتم آيتِ کرِيمه کښې داسې فرمائي:

لَقَدۡ کَانَ لَکُمۡ فِیۡ رَسُوۡلِ اللّٰہِ اُسۡوَۃٌ حَسَنَۃٌ مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيشکه تاسو لره د رَسُولُ اللّٰه پيروي بهتره ده.

نو د رَحمت د دې نمونې چه څوك نقل کوي هُم هغه به کاميابېږي او د الله تعالیٰ دا راعطا کړې نمونه چه څوك پرېږدي او د شيطان پيروي کوي او د غير مُسلمو رسم و رواج اختياروي هغه به کله هُم کامياب نه شي.

## بد نصيبه ناوَك اُوده پاتې شو!

خورو خورو اسلامي ورونړو! الله تعالیٰ دِ په تاسو فضل او کرم اوکړي، کيدې شي چه په تاسو کښې د چا په باره کښې دا شور جوړ شي چه د شپې خو روږ رمت اُوده شوې وو خو سحر مو چه د

نوکرئ د پاره راپاڅولو نو پوهه شو چه نن خو دا داسې اُوده شوې دې چه اوس به د قيامت د ورځې پورې اُوده پروت وي يعني د ده رُوح ختلې دې. آو آو دا په **بابُ الْمدينه** کراچئ کښې شوي يوه غمناکه واقعه ده، د يو ځلمي نکاح اوشوه...... د واده تاريخ هُم راغې.... صبا به ناوې راولي، د شپې د شُکرانې د نفلونو او په شُکرانه کښې د صدَقه او خيرات کولو په ځائ د شيطان په تابعدارئ کښې د ګډا او سندرو محفل جوړ کړې شو، د خاندان لونړه او هِنګياندې د ډول وهلو سره ګډيږي او ورسره سرې هُم په ګډا دي، ټوله شپه ئې چه په ګډا او سندرو تيره کړه او د سحر اذانونه شروع شو نو جُمات ته د تللو په ځائ خلق د اُوده کيدو د پاره لاړل، ناوَك [يعني د واده هلك] هُم په خپله بستره خملاستو، د ټولې شپې د ستړې په وجه ئې سترګې ورغلې. خوږو اسلامي ورونړو! اوس زړه کلك کړئ او واورئ! د **جُمُعې** ورځ وه، مور ئې د ورځې دولس بجې خوك ور اُوليږو چه ورشه زما خوږ ځوئ راپاڅوه نن د **جُمُعې** ورځ ده چه زر زر غُسل اوکړي او تياري اوکړي ځکه چه نن د هغه ناوې راتلو والا ده. د راپاڅولو د پاره ئې د کور يو کس ورغلو، ډير آوازونه ئې ورته اوکړل خو ناوك صاحب جواب نه ورکوي، يَه هلکه! آخر ته د شپې خومره ستړې شوې ئې چه اوس دِ سترګې نه غړيږي! خو چه

کله ئې اُوخوزوو را اُوخوزوو نو څه ګوري چه هغه خو د همیشه د پاره اُوده شوې دې ټول په چغو سر شو او یو غوغا جوړه شوه او د واده کور د ماتم کور جوړ شو، کوم ځائې کښې چه د شپې د واده سازونه غږیدل اوس هلته شور او غَوغا جوړه وه، کوم کور کښې چه خنداګانې کیدلې هلته اوس اوښکې بهیږې. د ګور و کفن تیاري شروع شوه، آه صد افسوس! یو څو ګینټې پس چه به کوم سر ته د ګُلونو سهرې ور اچولې شوې او په ګُلونو ښکلې کړې موټړ کښې به کښینولې شوې هغه **بد نصیبه ناوَك** د جنازې په کټ کښې واچولې شو او وَرَئِیزو اخستې دې د واده هال طرف ته د وړلو په ځائې ئې ادیرې [یعني مُقبرې] ته وړې. هائے! هائے! **بد نصیبه ناوك** په رنړاګانو ښائسته کړې کور نه اووتو او د تورو تِیارو **قَبْر** طرف ته روان دې او اوس [لږ ساعت پس] به رنګ په رنګ ګُلونو باندې ښائسته کړې د واده کوټې ته نه بلکه د خزندګانو نه ډك خوفناك **قَبْر** ته به کُوز کړې شي، اوس د واده ښکلې رنګینه او خوشبوداره جوړه د هغه په غاړه نه ده بلکه د کافورو د غمناکې خوشبو کفن ئې په غاړه دې او...... او...... دغه دې چه **بد نصیبه ناوك قَبْر** ته کُوز کړې شو. آه! ـــه

تُو خوشی کے پھول لے گا کب تلک؟

تو یہاں زندہ رہے گا کب تلک؟

تر څو پورې به اوسې ته خوشحاله  دې دُنيا کښې؟
تر څو پورې به اوسې ته ژوندې په دې دُنيا کښې؟

## د قَبر خطرناك منظر

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! مونږ به هُم يوه ورځ مرو او د تورو تيارو قَبْر ته به ځو، آو! آو! کوم کسان چه مونږه خخوي مونږه به هغوئي وِينو هُم او د هغوئي خبرې به هُم آورو، او چه کله هغوئي زمونږ په قَبْر خاورې آړوي نو دا درد ناك منظر به هُم وِينو خو هيڅ خبره به نه شو کولې، د خخولو نه پس چه زمونږه ګران خلق د قَبْر د خوا نه روان شي نو مونږ به د هغوئي د بنپو بنکالو آورو او زړه به مو په خفګان کښې ډوب وي، په دې کښې به دوه د خوفناکو شکلونو والا فرښتې په خپلو اُوګدو اُوګدو غاښونو د قَبْر ديوال اُوخيري او تور تور خوفناك اُوګده ويښته به په ځان پسې راښکاږې او را به شي، د هغوئي د سترګو نه به شُعلې خيژي او هغوئي به مو په سختئ سره کښينوي او په سخت آواز کښې به تپوسونه کوي، د دُنيا په رنګينئ کښې ورك صرف د دُنياوي امتحان فِکر لرونکو نه، فلمونه او ډرامې کتونکو، سندرې او سازونه اوريدونکو، ګيرې خرئيلې والؤ، ګيره د يو مُوټي نه وړه کولو والؤ، د حرامې روزئ ګټلو والؤ او د سُود او رِشوت اخستلو ورکولو والؤ، د خپلې عُهدې نه ناجائزه فائده

اخستو او د مظلومانو ازار اخستو والؤ، دروغ وئيلو والؤ، غِيبت او **چُغلي** کولو والؤ، د مور او پلار زړونه ازارولو والؤ، د خپل اولاد د شريعت او سُنَّت مطابق تربِيَّت نه کولو والؤ، د دې يَرې نه چه چرې پوخ مذهبي جوړ نه شي خپل اولاد د سُنَّتو نه ډك مَدَني ماحول او د **دعوتِ اسلامي** د اجتماعاتو نه منع کولو والؤ، خپل اولاد د کِيرې پرېښودو نه منع کولو والؤ، بې پردګې کوونکې او ښکاره وِيښته په بازارونو کښې ګرځيدو والا زنانؤ، په ميك اپ کښې په بازارونو او د خپلوانو کره بې پرده تلونکو او بې يَرې په قِسم قِسم ګناهونو کښې اخته اوسيدونکو نه که **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ ناراضه شو او د هغه خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترې خفه شو او د ګناهونو په وجه ئې که **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ اِيمان برباد شو نو څه به کيږي؟ په ډيره سخته طريقه تپوسونه کيږي: **مَنْ رَّبُّكَ؟** يعني ستا رب څوك دې؟" آه! رب تعالٰى ئې کله ياد کړې وو! جواب نه شي وئيلې، چا چه ايمان برباد کړې وي د هغه د خُلې نه به اُوځي: "**هَيهَاتَ هَيهَاتَ لَا اَدْرِى؟**" يعني افسوس! افسوس! ما ته هيڅ نه دې معلوم." بيا به تپوس کيږي: **مَادِيۡنُكَ؟** "يعني ستا دين څه دې؟" په **قَبْر** کښې به مړې سوچ کوي چه ما خو د نن ساعته پورې صرف خپله دُنيا آباده کړې وه، **د قَبْر د امتحان** طرف ته مې کله خيال هُم نه وو تلې، بس صرف د دُنيا په

رنګينۍ کښې ورك ووم، زه **د قَبْر د امتحان** نه څه خبر ووم! په هيڅ نه پوهيږي او په خُله دا وائي چه: "هَيهَاتَ هَيهَاتَ لَا اَدْرِى" يعني افسوس! افسوس! ما ته هيڅ نه دي معلوم." بيا به ورته د يو ښکلي او ښائسته نوراني هستۍ نظاره اُوښودې شي او تپوس به ترې اوکړې شي: مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هٰذَا الرَّجُل؟"يعني تا به د دوئي په باره کښې څه وئيل؟" ځنګه به ئې اوپيژني! ګِيره خو ئې پيژاندله نه، د غير مُسلِمو طور طريقې ئې خوښې وې، د ګِيرې خرئيلو معمول ئې وو، دا خو د ګيرې مبارکې والا هستي ده، ماشوم مې زُلفې پريښې وې نو هغه مې په وهلو وهلو په کټ کولو مجبور کړې وو او دې هستۍ خو زُلفې پريښې دي، په **چابې چَين** کښې مې د فلمې اداکارې تصوير لګولې وو او د خپل سوزوکې شا ته مې هُم خلقو ته د بد نظرۍ د دعوت ورکولو د پاره د فلمې اداکارې تصوير لګولې وو، په کور کښې مې هُم د فلمي اداکارو تصويرونه لګولي وو، ما خو فنکاران او سندرغاړي پيژاندل، دا صاحب څوك دې؟ آه! د چا چه خاتِمه په اِيمان نه وي شوي د هغه د خُلې نه به اُوځي: هَيهَاتَ هَيهَاتَ لَا اَدْرِى يعني افسوس! افسوس! ما ته هيڅ نه دي معلوم." په دې کښې به د جَنَّت کړکۍ برسيره شي او فوراً به بنده شي بيا به د جهَنَّم کړکۍ برسيره شي او ورته وائي به: که تا صحيح جوابونه ورکړي وې نو ستا

د پاره هغه د جَنَّت کړکۍ وه. دا چه واوري نو هغه سخت ارمان کوي، کفن به ئې د اور په کفن کښې بدل کړې شي، د اور بستره به ئې په قَبْر کښې خوره کړې شي، ماران او لړمان به وريورې اونښلي.

آج مچھّر کا بھی ڈنک آہ! سہا جاتا نہیں قبر میں بچھو کے ڈنک کیسے سہے گا بھائی؟

لشه د ماشي هُم چه نه شې ته برداشت کولې
قبر کښې څنګه به برداشت کړې د لړم لشکه؟

## د جانان ﷺ ديدار

د نمونځ ګُزارو، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژو نيولو والؤ، حج ادا کولو والؤ، پوره زکوٰة ادا کولو والؤ، د فِلمونو او ډرامو نه ځان ساتلو والؤ، د وعده خلافۍ، بد اخلاقۍ، بد نظرۍ، دروغو، غِيبت، چغلۍ او بې پردګۍ نه ځان ساتلو والؤ، د **اللّٰه** تعالٰی د رضا د پاره خوږې خبرې کولو والؤ، د **دعوتِ اسلامي** مُبَلِّغينو، په سُنَّتو باندې عمل کوونکو او نورو ته زده کوونکو، د **فيضانِ سُنَّت** درس ورکولو او اوريدلو والؤ، **د نيکۍ دعوت** عام کولو والؤ، د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني قافلو کښې سفر کوونکو، يو مُوټې ګِيره پريښودلو والؤ، د عِمامې شريفې [يعني د پټکي مبارك] تاج په سر کولو والؤ او د سُنَّت مطابق لباس اغوستلو والؤ ته دِ مبارك شي چه کله مُؤمِن قبر ته لاړ شي او د هغه نه تپوس اوکړې شي چه: مَنْ رَّبُّكَ؟ "يعني ستا رب څوك دې؟ نو هغه

به وائي: رَبِّیَ اللہ ”یعني زما رب الله جَلَّ جَلَالُہٗ دي.“ مَادِیۡنُكَ؟ ”یعني ستا دِین څه دي؟“ نو وائي به دِیۡنِیَ الۡاِسۡلَام ”یعني زما دِین اسلام دي“ (اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د هُم دي اسلام د مَحبّت په وجه خو به مي په مَدَني قافله کښې سفر کولو. د هُم دي اسلام د پاره خو به مي د خلقو پیغورونه برداشت کول، په سُنّتو به مي چه عمل کولو نو خلقو به راپورې توقې کولې خو ما به په خوشحالئ برداشت کولې، د هُم دي دِينِ اسلام د پاره خو زما ژوند وقف وو) بیا به د یو رَحمتونو والا هستئ نظاره اُوښودې شي نو د خوش نصیبه نمونځ گُزارو، روژه دارو، حاجیانو ، د فرض کیدو په صورت کښې د پوره زکوٰة ادا کولو والؤ، په سُنّتو باندې د عمل کولو والؤ، د نیکئ دعوت عام کولو والؤ او په **مدني قافلو** کښې د سُنّتو نه ډك سفر کولو والؤ زړونه به ډیر زیات خوشحاله شي. مُفتي اَحمد یار خان رَحمۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي چه د عاشقانو خو په دې دُنیا کښې هُم دا حالت وي: ــه

روح نہ کیوں ہو مُضطَرِب موت کے انتِظار میں سُنتا ہوں مجھ کو دیکھنے آئیں گے وہ مزار میں

رُوح بې قراره به ولې نه وي، د مرګ په انتظار کښې
اورَم تشریف راوړي به هغوئي، زما مزار کښې

او ټول عمر مي دا ارمان هم کړې وو چه: ــه

قبر میں سرکار آئیں تو میں قدموں پہ گروں گر فِرِشتے بھی اُٹھائیں تو میں اُن سے یوں کہوں
اب تو پائے ناز سے میں اے فرشتو کیوں اُٹھوں مر کے پہنچا ہوں یہاں اِس دِلرُبا کے واسطے

قبر کښې چه راشي آقا زه به ئې په ښپو پریوځم
که لرې کوي مې فرښتې نو وايم به زه داسې چه
ولې به پاخیږم اوس د دې ښکلو قدمونو نه
په مرګ رارسیدلې یم دلته د پاره د دې دِلرُبا

نو چه کله د خوږ مَدَني تاجدار زمونږ د بې وسو مدد ګار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په باره کښې تپوس اوکړې شي چه: مَا كُنْتَ تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ؟ "یعني د دې سړي په باره کښې به تا څه وئیل؟" نو په ژبه به بې اختیاره جاري شي: هُوَ رَسُوْلُ اللهِ "یعني دا د الله جَلَّ جَلَالُهٗ رسول صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې،" (هُم دا خو زما هغه آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې چه د چا ذِکرِ خیر به ما کله اوریدو نو زه به ډیر زیات خوشحالیدم او مبارك نوم به مې ئې چه واوریدو نو د عقیدت نه به مې د لاسو غټې ګوتې ښکلولې، دا خو زما هُم هغه خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې د چا یاد چه زما د ژوند ټوله سرمایه وه، دا خو زما هُم هغه آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې چه د چا ذِکر زما د زړه خوشحالي او د سترګو نُور وو) ؎

مرے تو آپ ہی سب کچھ ہیں رحمتِ عالَم میں جی رہا ہوں زمانے میں آپ ہی کے لئے
تمہاری یاد کو کیسے نہ زندگی سمجھوں یہی تو ایک سہارا ہے زندگی کے لئے

زما خو هر څه هر څه ته ئې رَحمتِ عالَم
زه خو ژوندې یم په دُنیا کښې هُم دا ستا د پاره
ستا یاد به څنګه نه ګڼړم خپل ژوندون
هُم دا یوه مې اَسره ده د بقا د پاره

او چه کله خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل ديدار د شرف عطا کولو نه پس بيرته تشريف وړي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی عاشق به ئې په ښپو مبارکو پريوځي او دا عرض به ورته کوي چه: يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ؎

دل بھی پیاسا نظر بھی ہے پیاسی　　کیا ہے ایسی بھی جانے کی جلدی
ٹھہرو، ٹھہرو! ذرا جانِ عالم!　　ہم نے جی بھر کے دیکھا نہیں ہے

زړه مې دې تږې هُم نظر تږې
داسې زر مه ځئ مَدَني سرداره
حصار شئ لږ نور مَدَني جانانه
زه لا موړ شوې په ديدن نه يمه

اے کاش چه! د هميشه د پاره زمونږه قَبْر زمونږ د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نظارو آباد شي نو بيا خو به.......... لکه څنګه چه مولانا حسن رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ وائي ؎

کیوں کریں بزمِ شبستانِ جِناں کی خواہش
جلوہ یار جو شمعِ شبِ تنہائی ہو

ولې به کړو په هغه شپه زه د جنّت خواهش
چه تنهائي کښې وي روښانه د جانان نظاره

د آخري تپوس د جواب ورکولو نه پس به د جَهَنَّم کړکئ برسيره شي او فوراً به بنده شي او د جَنَّت کړکئ به برسيره شي اَو اُو به

www.dawateislami.net

وئيل شي چه: كه تا صحيح جوابونه نه وې راكړي نو ستا د پاره د دوزخ كړكۍ وه. دا چه واوري نو هغه به ډير زيات خوشحاله شي، بيا به جَنَّتي كفن وي، جَنَّتي بِستره به وي، قَبْر به د ليدلو د حده پورې وسيع [يعني فراخه] شي او بس صرف مزې او مزې به وي. ـــ

قبر میں لہرائیں گے تا حشر چشمے نور کے
جلوہ فرما ہو گی جب طلعت رسول اللہ کی (حدائقِ بخشش شریف)

تر قيامته به په ګور كښې وي انوار
نظاره چه پكښې اوشي د آقا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د جهَنَّم په دروازه نوم

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د الله تعالیٰ په باركاه كښې فوراً د ګناهونو نه توبه اوكړئ. د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: "څوك چه قصداً [يعني اِرادتاً] يو نمونځ هُم قضا كړي د هغه نوم به د جَهَنَّم په هُغه دروازه اوليكلې شي په كومه به چه هغه جَهَنَّم ته داخليږي." (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج٧ ص٢٩٩ حديث١٠٥٩٠) د نمونځونو پابندي كوئ په بهارِ شريعت جِلد اوّل صفحه ٤٣٤ كښې دي: "غَـيّ په جَهَنَّم كښې يوه كنده ده چه د هغې ګرمي او جوړوالې د تولو نه زيات دې،

www.dawateislami.net

په هغې کښې يو کُوهې دې، د هغې نوم ”هَبْهَب“ دې، چه کله د جهنَّم اور په مړ کيدو شي نو الله تعالٰی هغه کوهې برسيره کړي او د هغې په وجه هغه بيا لمبې وهل شروع کړي. دا کُوهې د بيلمانځو او زناکارو او شرابيانو او سُود خورو او مور او پلار ته تکليف ورکوونکو د پاره دې.“ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژو نِيولو پابندي کوئ، په حديثِ پاك کښې اِرشاد شوې دې: ”څوك چه د رَمَضان د مياشتې يوه روژه بې د شرعي عُذره او مرض نه قضا کړي نو د ټولې زمانې روژې د هغې قضا [يعني بدله] نه شي کيدې اګرکه ورروسته ئې اونيسي هم.“

(سُنَنُ التِرمِذِی،ج۲ ص۱۷۵ حديث ۷۳۳)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! که د تير وخت نمونځونه يا روژې مو پاتې وي نو د هغې حساب اولګوئ، قضا عُمري اوکړئ او د قصداً کړې تاخير [يعني ناوخته] کولو توبه هُم اوکړئ. فلمونه، ډرامې او بد نظري کولو والؤ ته يَريدل پکار دي ځکه چه په مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب کښې دي: ”څوك چه خپلې سترګې د حرام نه ډکې کړي د هغه سترګې به د قيامت په ورځ د اور نه ډکې کړې شي.“ (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب ص۱۰) د مور او پلار زړونه ازارولو والؤ د پاره د دردناك عذاب خبر دې، چنانچه په حديث شريف کښې راغلې دي: د معراج په شپه سَرورِ کائنات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو منظر اوليدو چه څه خلق د اور په خاخونو رازوړند وو. عرض اوکړې شو: ”دوئي به مور او پلار ته

www.dawateislami.net

کنزلې کولې.“ (اَلکَبائِر ص٤٨) د کَيرې خرئيلو والؤ يا د يو مُوتې نه ګَمولو والؤ د پاره د فکر مقام دې ځکه چه په حديثِ پاك کښې راځي: ”بريت ښه واړه کړئ او کَيرو ته معافي ورکړئ (يعني پريږدئ ئې) او د يهوديانو په شان صورت مه جوړوئ.“

(شرح معانی الآثار ج٤ ص٢٨ حديث٦٤٢٢، ٦٤٢٤)

سرکار کا عاشق بھی کیا داڑھی منڈاتا ہے؟
کیوں عشق کا چہرے سے اظہار نہیں ہوتا؟

د رسول عاشق هُم آيا کَيره خَرَوِي؟
د عشق نـښه ئې په مخ ولې نه ښکاريږي؟

## تور لړمان

د پاکستان مشهور ښار کوئټې ته نزدې يو کلي کښې يو لاوارثه کَيره خرئيلې ځلمې مړ اوموندې شو، خلقو په شريکـه هغه خخ کړو. په دې کښې د مرحوم خپلوان راغلل، هغوئې وئيلې چه مونږه دا مړې را اُوباسو او خپل کلي ته ئې وړو، هلته به ئې خخوو، لِهٰذا قبر دوباره اوکنستې شو، چه کله ئې د سر طرف نه سليپونه [يعني سِيمټې تختې] لرې کړې شوې نو [د ډيرې يَرې نه] د خلقو د خُلو نه چغې اوختلې! کفن ئې د مخ نه لرې شوې وو او د کَيره خرئيلي ځلمي په مخ باندې د تورو تورو لَړمانو توره توره کَيره جوړه شوې وه،

خلقو پرې په يَره يَره زر زر سليپونه کيښودل، خاورې ئې پرې واړولې او اوتښتيدل.

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** **اللّٰه** تعالٰى دِ مونږ ټول د لَړمانو نه په خپل امان کښې اوساتي. آمِين! بس زر زر د خوږ خوږ د شهدو نه هُم خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت** په مخ پريږدئ او چا چه تر اوسه پورې ګيره خرئيلې وي يا ئې د يو مُوټې نه وړه کړې وي هغوئې دِ د دې ګناه نه توبه هُم اوکړي. ياد ساتئ! **ګِيره خرئيل هُم حرام دي او د يو مُوټې نه وړه کول هُم حرام دي.**

## زُلفې پريښودل سُنّت دي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** زمونږ د خوږ خوږ مَكِّي مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زُلفې مباركې به كله د غوږ مبارك د نيمې پورې وې او كله به د غوږ مبارك د لو [يعني نرمې حِصّې] پورې وې او چه كله به غټې شوې نو څوكې به ئې مباركو اُوګو ته لګيدلې. (الشمائل المحمدية للتِّرمِذِي، ص ٣٤، ٣٥، ١٨) (خو د حج او عُمرې د احرام نه د وتلو د پاره ئې حلق فرمائيلې دې يعني سر مبارك ئې خرئيلې دې) انګريزي وِيښته پريښودل سُنَّت نه دي، زُلفې پريښودل سُنَّت دي. مهرباني اوكړئ! د سُنَّت مطابق زُلفې پريږدئ. او د خوږ خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښكلې سُنَّت عِمامه شريف [يعني پټكې مبارك] هُم په سر كوئ.

www.dawateislami.net

## د عِمامې ښکلې حِکايت

اعلٰحضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: (د اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِين فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ د ځوئ طرف نه نمسي حضرتِ سَيِّدُنا) سالِم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ فرمائي: زه د خپل پلار مبارك (حضرتِ سَيِّدُنا) **عبدُالله** بِن عُمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُمَا په خِدمت کښې حاضِر شوم او هغوئي عِمامه [يعني پټکې] تړلو، چه کله ئې اوتړلو نو زما طرف ته ئې توجُّه اوکړه او اوئې فرمائيل: ته عِمامه خوښوې؟ ما عرض اوکړو: ولې نه! اوئې فرمائيل: دې سره مَحَبَّت کوه عِزَّت به مُومې او چه کله شيطان تا وِيني نو تا ته به شا کوي. ما د رسولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه فرمان اوريدلې دې چه "د عِمامې سره يو نفل نمونځ او يا که فرض وي د بې عِمامې پينځه وِيشتو نمونځونو برابر دې او د عِمامې سره يوه جُمُعه د بې عِمامې پينځه وِيشتو جُمُعو برابره ده." بيا ئې اوفرمائيل: اے بچيه! عِمامه وهه ځکه چه فرښتې د جُمُعې په ورځ عِمامې [يعني پټکې] په سر راځي او د نمر پريوتو پورې په عِمامه والؤ باندې سلام ليږي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه مُخَرَّجه ج٦، ص٢١٥)

که ټول خپل مَدَني سوچ جوړ کړې چه د نن به مونږه د کِيرې، زُلفو او عِمامې په سُنَّتو باندې عمل کوو نو زه دا ګنړم چه د کِيرې، زُلفو او عِمامې رواج به يو ځل بيا جوړ شي. يعني څنګه چه نن

صبا خلق په كثرت سره كِيري خرَوِي هُم دغسې په كثرت سره مسلمانان كِيري پريښودل شروع كړي نو هر طرف ته به د كِيرې، زُلفو او عِمامو سپرلي راشي.

ہم کو میٹھے مصطفےٰ کی سنّتوں سے پیار ہے
اِنْ شَآءَاللّٰہ دو جہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

مونږ لرو د خوږ آقا د سُنّتو سره محبّت
اِنْ شَآءَاللّٰه حاصل به کړو د پاك اللہ رَحمت

## د ناجائِزه فيشن كوونكو انجام

تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي چه: (د مِعراج په شپه) ما څه سړي اوليدل چه د هغوئي څرمني د اور په **قينچيانو** پريك كولي شوې، ما اووئيل: دا څوك دي؟ جِبرئيلِ امِين (عَلَيْهِ السَّلَام) اووئيل: دي خلقو به په ناجائِزه څيزونو زِينت [يعني ښائِست] حاصلولو. او ما يوه بدبوئي داره كنده اوليدله چه په هغې كښې شور او غوغا جوړه وه، ما اووئيل: دا څوك دي؟ نو اوئي وئيل: دا هُغه ښځې دي چا به چه په ناجائِزه څيزونو زِينت [يعني ښائِست] حاصلولو. (تاریخِ بَغداد ج١ص٤١٥) ياد ساتئ! د نَيل پالش [يعني د نوكانو د پالشو] پاترې په نُوكانو پورې نښلي لِهٰذا په داسې حالت كښې د اودس

کولو سره اودس نه کيږي او نه په لامبلو غُسل اُوځي، او چه اودس او غُسل اُونشي نو نمونځ هُم نه کيږي.

## راځئ چه پخه وعده اوکړو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د نن نه عهد [يعني پخه وعده] اوکړئ چه زما يو نمونځ به هُم نه قضا کيږي. نه به د رمضان روژه قضا کووم....... فلمونه او ډرامې [او د بې حيائې کلِپونه] به نه ګورو........ سندرې او سازونه به نه اورو، ګيرې به نه خرئيوو........ د يو مُوټې نه به ئې نه وړه کوو....... اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی.[2] د سرو د پرتُوګ وغيره پينځې د ګِيټو [يعني پړکو] نه اوچتې پکار دې ځکه چه کومه کپړه [د ګِيټو نه ښکته] غورزيږي هغه په اور کښې ده. په حديثِ پاك کښې دي: "يو کس د تکبُّر په وجه تهبند [يعني لنګ، پاجامه، پرتُوګ وغيره په ځان پسې] راښکلو، [هغه] په زمکه خخ کړې شو او د قيامته پورې به هغه په زمکه کښې [ښکته] خخيږي." (بُخاری ج٤ ص٤٧ حديث٥٧٩٠) د نن

[2] امير اَهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَه په ځينې اجتماعاتو کښې د بيان نه پس په خپل مخصوص انداز کښې د خلقو نه عهد [يعني پخه وعده] اخلي او د هغې په جواب کښې په اجتِماع کښې موجود اسلامي وروڼړه لاسونه اوچت کړي او د اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی زورداري نعرې لګوي.

نه پس به ټول اسلامي ورونړه خپلي پاجامي [او پرتوګ] د ګِيټو [يعني پړكو] نه اوچتي ساتو............ اِنْ شَآءَاللّٰه ......... اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د بيان په آخِره كښې د سُنَّت فضيلت او يو څو سنّتونه او آداب د بيانولو سعادت حاصلووم. د تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: چا چه زما د سُنّت سره مَحَبَّت اوكړو، هغه زما سره مَحَبَّت اوكړو، او چا چه زما سره مَحَبَّت اوكړو، هغه به په جَنَّت كښې زما سره وي. (اِبنِ عَساكِر ج٩ ص٣٤٣)

سینہ تیری سنَّت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سينه مي دِ شي جوړه د سُنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت كښې مي خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ميلمستيا ۲۰ مَدَني ګلونه

۞ شپږ فَرامِينِ مُصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿۱﴾ څوك چه په الله او په قيامت باندې اِيمان لري هغه ته پكار دي چه د ميلمه احترام اوكړي (بُخارى ج٤ ص١٠٥ حديث ٦٠١٨) مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې لِيكي: **د ميلمه احترام دا دې چه د هغه سره په فراخه تندي ملاقات اوكړي، د هغه**

د پاره د طعام او د نورو خِدماتو انتظام اوکړي، چه څومره کيدې
شي د هغه خِدمت دِ په خپل لاس اوکړي (مِراٰۃج٦ص٥٢) ﴿٢﴾ کله چه
څوك ميلمه د چا کره راځي نو هغه خپل رزق [د ځان سره] راوړي او
چه کله د هغه د کور نه ځي نو د کوربه د ګناهونو د بخښني سبب
وي (كَنْزُالْعُمّال ج٩ص١٠٧ حديث٢٥٨٣١) ﴿٣﴾ چا چه نمونځ قائِم کړو، زکوٰة ئې
ادا کړو، حج ئې ادا کړو، د رَمَضان روژې ئې اونيولې او د ميلمه
ميلمستيا ئې اوکړه، هغه به جَنَّت ته داخليږي. (اَلْمُعْجَمُ الْكَبِيْر ج١٢ص١٠٦
حديث١٢٦٩٢) ﴿٤﴾ څوك چه د قدرت [لرلو] باوجود ميلمستيا نه کوي په
هغه کښې خير نشته (مُسْنَدِاِمام اَحمَدبِن حَنْبَل، ج٦ ص١٤٢ حديث١٧٤٢٤) ﴿٥﴾ د
انسان کم عقلي ده چه هغه د خپل ميلمه نه خدمت واخلي (اَلْجَامِعُ
الصَّغِير ص٢٨٨، حديث٤٦٨٦) ﴿٦﴾ سُنَّت دا دي چه انسان ميلمه د دروازې
پورې رخصتولو د پاره لاړ شي. (اِبنِ مَاجَه ج٤ص٥٢ حديث٣٣٥٨) مُفتي احمد
يار خان رَحمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيه فرمائي: زمونږه ميلمه هُغه دې څوك چه زمونږ
سره د ملاقات د پاره د بهر نه راشي، که د هغه سره د مخکښ نه
زمونږه پيژندګلو وي او که نه وي او څوك چه زمونږ سره د دوه درې
مِنټه د ملاقات د پاره زمونږ د خپلې محلّې يا زمونږ د خپل ښار نه
راغې هغه مُلاقاتي دې ميلمه نه دې. د هغه خاطر خو کوئ خو د
هغه د پاره دعوت نشته او کوم ناپيژندګلو کس که د خپل کار د پاره
زمونږ څنګ ته راشي نو هغه ميلمه نه دې لکه څنګه چه د حاکِم

[يعني افسر] او مُفتي څنګ ته د خپلې مقدَّمې يا فَتوې د پاره راځي
نو دوئي د حاکِم [يا مفتي] ميلمانه نه دي (مِراة ج٦ ص٥٤) ۞ **ميلمه** ته
پکار دي چه د کوربه د مصروفياتو او د هغه د ذِمّه وارو خيال
ساتي. په بهارِ شريعت جِلد۳ صفحه ۳۹۱ کښې څوارلسم نمبر حديث
دې: "څوك چه په **الله** (تعالیٰ) او د قيامت په ورځ ايمان لري، هغه دِ د
**ميلمه** اِکرام کوي، يوه شپه او ورځ د هغه جائِزه ده (يعني يوه ورځ دِ د
هغه پوره خاطر داري اوکړي، د خپل وَس مناسب دِ د هغه د پاره ښه طعام تيار
کړي) او ضِيافَت (يعني عامه ميلمستيا) درې ورځې ده (يعني د يوې ورځ
نه پس دِ خاص طعام نه پخوي، چه څه حاضر وي هغه دِ ورته وړاندې کوي)
او د درې ورځو نه پس صَدَقه ده، د **ميلمه** د پاره دا حلال نه دي چه
د هغه کره حِصار اوسي او هغه په حرج [يعني تکيلف] کښې
واچوي." (بُخاری ج٤ ص١٣٦ حديث ٦١٣٥) ۞ چه کله تاسو چا کره د **ميلمه**
په طور ځئ نو مناسب دي چه د ښو ښو نِيَّتونو سره د خپل حيثِيَّت
مطابق د کوربه يا د هغه د بچو د پاره د ځان سره تُحفې يوسئ ۞ کله
کله داسې هُم کيږي چه که **ميلمه** تُحفه رانوړي نو کوربه يا د هغه د
کور کسان په **ميلمه** پورې د بدو خبرو کولو په ګناه کښې اخته شي.
نو چرې چه يقيني طور يا په غالِب ګُمان داسې صورتِ حال وي نو
**ميلمه** ته پکار دي چه هلته بغير د مجبورئ نه نه ځي. که ضرورتاً
ځي او تُحفه ځان سره وړې نو باك نشته، البته که کوربه په دې نِيَّت

واخسته چه که **میلمه** تُحفه نه وي راوړي نو کوربه به په **میلمه** پورې سپکې خبرې کولې یا په طور د خاص نِیَّت خو نه مګر د هغه داسې بد معمول دې نو کوم ځائ چه د هغه غالِب ګُمان وي چه راوړلو والا صرف په دې وجه یعني د هغه د شر نه د بچ کیدو د پاره تحفه راوړې ده نو بیا د اخستو والا کوربه ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دې او دا تُحفه د هغه په حق کښې رِشوت دې. خو که د سپکو وئیلو نِیَّت ئې نه وي او نه د هغه داسې معمول وي نو په تُحفه قبلولو کښې باك نشته ۞ **صَدرُ الشَّرِیعه، بَدرُ الطَّرِیقه** حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د **میلمه** د پاره څلور خبرې ضروري دي: (١) چه کوم ځائ کښینولې شي هُم هلته دِ ناست اوسي (٢) څه خیز چه د هغه مخې ته وړاندې کړې شي په هغې دِ خوشحاله شي، هسې نه چه داسې اُو وائي چه: د دې نه ښه خوراك خو زه په خپل کور کښې کووم یا داسې نورې خبرې (٣) د کوربه د اجازت نه بغیر (یعني د اجازت اخستو نه بغیر) دِ د هغه ځائ نه نه پاڅي او (٤) چه کله د هغه ځائ نه ځي نو د هغه د پاره دِ دُعا اوکړي (عالمګیری ج٥، ص٣٤٤) ۞ د کوربه د کور یا طعام وغیره په معاملاتو دِ د هیڅ قِسم اعتراض نه کوي او نه دِ د دروغو صِفت کوي. کوربه دِ هُم د **میلمه** نه داسې تپوسونه نه کوي چه د هغې په وجه **میلمه** د دروغو په خطره کښې پریوځي مَثَلًا زمونږه طعام

څنګه وو؟ ستاسو خوښ شو که نه؟ په داسې موقع باندې که د نه خوښېدو باوجود **مېلمه** د هغه د زړه خوشحالولو د پاره د دروغو صِفت کوي نو ګنهګار به وي. دا تپوس دِ هُم ترې نه کوي چه تاسو ځان موړ کړو که نه؟“ ځکه چه دلته هُم په جواب کښې د دروغو خطره ده، کېدې شي چه د کم خوراك د عادت يا پرهيز يا د بلې مجبورئ په وجه د کم خوراك باوجود د ډېرو سَتونو او خبرو نه د بچ کېدو د پاره هغه اووائي چه ”آؤ ما ځان ښه موړ کړې دې“ ۞ کوربه ته پکار دي چه **مېلمه** ته [د ضرورت مطابق] ساعت په ساعت وائي چه ”خوره جي“ خو ډېره ټينګتيا دِ نه کوي، چه هسې نه د ټينګتيا په وجه زياته اوخوري او دا د هغه د پاره د نقصان باعث جوړه شي (ايضاً) ۞ حُجَّةُ الاِسلام اِمام محمّد غزالي رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَيۡه فرمائي: که ملګرې کس کمه خوري نو هغه ته دِ د ترغيب په طور اُووائي چه: اُوخورئ! خو د درې ځله نه زيات وئيل نه دي پکار ځکه چه دا ”اِصرار“ [يعني زياته ټينګتيا کول] او د حد ته اووښتل شو (اِحْيَاءُالْعُلُوم ج۲ص۹) ۞ کوربه دِ بالکل خاموشه نه اوسي او داسې هُم نه دي پکار چه طعام ورته کېږدي او پخپله غائب شي بلکه هلته دِ حاضر اوسي (عالمګيری ج۵، ص۳۴۵) ۞ د **مېلمه** په مخکښې دِ خادِم [يا خپل بچي وغيره] نه رټي او نه وهي (ايضاً) ۞ کوربه ته پکار دي چه د **مېلمه** په خاطردارئ کښې پخپله مشغول اوسي، خادمانو ته دِ ئې نه سپاري ځکه چه دا د

حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام سُنَّت دي (ايضاً، بهارشريعت ج۳، ص۳۹٤) څوك چه د خپلو وروڼو (يعني ميلمنو)] سره خوراك كوي د هغه سره به حساب نه كيږي (قُوتُ القُلُوب ج۲ ص۳۰٦) ۞ حُجَّةُ الاِسلام اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: څوك چه كم خوراك كوي او د خلقو سره خوراك كوي نو هغه ته پكار دي چه لږ ساعت پس خوراك شروع كړي او وړې وړې نوړئ كوي او په قلاره قلاره خوراك كوي د پاره د دې چه د آخرې پورې د خلقو سره ملګرتيا اوكړې شي (مِرقاةُ الْمَفَاتِيح ج۸، ص۸٤ تحت الحديث٤۲٥٤) ۞ كه چا په دې وجه زر بس كړل چه د خلقو په زړونو كښې مې مقام پيدا شي او د خيټې قُفلِ مدينه لګوونكې (يعني د كم خوراك والا) مې اوګڼړي نو رياكار او [د جهنّم] د اور حقدار دې ۞ كه د لوږې نه زياته ئې څكه اوخوړله چه د ميلمه سره طعام ته ناست دې او په دې پوهيږي چه كه زه بس كړم نو ميلمه به شرم محسوسوي او په مړه كيده به اُو نه خوري نو په دې صورت كښې هُم د څه زيات خوراك كولو اجازت دې هله چه صرف دومره زياتې وي چه د معدې د خرابيدو انديښنه ورسره نه وي (مُلخَّص از دُرِّ مُختار ج٦ ص٥٦١) ۞ يو كس عرض اوكړو: يَارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زه د يو كس كره لاړم، هغه زما ميلمستيا اونكړه، اوس كه هغه زما كره راشي نو آيا زه د هغه نه بدله واخلم؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: نه بلكه ته د هغه ميلمستيا اوكړه. (ترمِذِي ج۳ ص٤٠٥ حديث ۲٠١۳)

www.dawateislami.net

په زړګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه كتابونه (١) د ٣١٢ صفحو كتاب "بهارِشريعت" حصّه ١٦ او (٢) د ١٢٠ صفحو كتاب "سُنَّتيں اور آداب" هديه كړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِلو كښې د عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو نه ډك سفر هم دي.

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو　　لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو　　پاؤ گے برکتیں قافلے میں چلو

زده كړئ بنكلي سُنّتونه قافِلو كښې لاړ شئ
او ګټئ ډير رحمتونه قافلو كښې لاړ شئ
حل به مو شي مشكِلونه قافلو كښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافلو كښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## نيك او مونځ ګزاره جوړيدو دَ پاره

هر زيارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتِماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تيروئ ۞ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د دري ورځو سفر او ۞ هره ورځ د ''**فِكرِ مَدِينه**'' په ذرِيعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په وړومبي تاريخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد**: ''ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح كوشش كول دي.'' اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په ''مَدَني اِنعاماتو'' عمل او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ كوشش كولو دَ پاره په ''مَدَني قافِلو'' كښې سَفَر كول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ











MAKTABA TUL MADINAH
MC 1286

www.dawateislami.net

فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (كراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net